AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه / ع : شیرزوی

۲۰۲۱/۰۲/۱۳

# په افغانستان کې د جګړې او نا امنیو مهم علتُونه

## دویمه برخه

**ایران:**

لا د ډیر پخوا څخه د افغانستان او ا یران هیوادو تر منځ د یو لړ ملهوظاتو پر بنیاو شخي شوړانګي د کال ۱۲۵۱ څخه د کال ۱۳۵۱ پورې راواني وې، او د ایران حکومت به د خپلو ګټو په نظر کې نیولو سره خپل دریځ ته کله نا کله بدلون ورکاوه ایران هغه هیواد دي چې کله افغانانو په کال ۱۹۱۹ م کال کې د غازی اماالله خان په مشرې خپله سیاسي خپلواکی تر لاسه کړه په کلکه ور سره مخالفت وکړ. خوکله چې د پخواني شوروی اتحاد د یرغل څخه په کال ۱۳۵۸ هه ، ش څخه را پدې خوا د ایران تبر لاستي پیدا کړ او په کمین کې ناست دوشمن ته فرصت په لاس ورغي، سم د لاسه یې خپله ملاتړ د افغاني پردې پالو( اشرارو) څخه اعلان کړ د خپل ( پاسداران انقلاب اسلامی) پر مټ یې خپله بی شرمانه لاسوهني عملا پیل کړي. د افغانستان د اشرارو له پاره یې نظامی زدکړې زمونږ د ګران هیواد دننه د ( علی تجلایې ) په واسطه یې پیل کړې. د ایران هیواد د هغې ورځې څخه را پدې خوا خپله سیاسي، نظامي او تولنیزه لاسوهنه یې زمونږ په ګران هیواد افغانستان کې جارى وساتله او پدې هڅه کې وه چې څرنګه د جهادی ډلو ټپلُو ترمنځ یووالی رامنځ ته کړی.

په کال ۱۳۵۸ هه- ش کې د ایران په بلنه ( افغانستان اسلامی متحده جبهه ) یې د اتو ډلو تر منځ په ډیر مالی لګښت سره رامنځ ته کړه.

« سازمان نصر» (حرکت اسلامی) ( نیروی اسلامی ) « نهضت اسلامی»( اتحادیه علُما ) « نهضت روحانیون و جوانان » را منځ ته کړل دغه یووالی د افغانانو د اختلافاتوپه وجه چندان و نه ځلیده، بیا د ایران حکومت په ډیرمالی لګښت سره هڅه وشوه چې په کال ۱۳۶۶ هه -ش کې د ( شورای ایتلاف هشتګانه ) تر سرلیک لاندی یوه شورا رامنځ ته کړه چې ډیر وخت یې دوام وموند، د څو کنفرنسونو په لاره اچولوسره د بامیانو په ولایت کې او د ایران دولت نیغ په نیغه لاسوهني او مالی ملا تړ سره یې (( حزب وحدت اسلامی ) یې رامنځ ته کړ.د ایران د دولت موخې دا وې چې څرنګه کوالای شی ددې پردې پاله حزب پر مټ خپله سیاسي، اقتصادي او تولنیزو برخو کې خپلې ناروا او پلتي ګټې په ګران هیواد کې ثابتې او سالمي پاتي شي.ایرانیانو په خپله بهرني پالیسي کې د افغانستان د ورانولو او تباه کولو پالیسي ځای پر ځای کړه. د ایران ستراتیژیک چاپیریال داسې دی چې افغانستان د هغوې له پاره په یوې اصلی او مهمي حلقي باندې بدل شوی او د شاه رګ حیثیت لرى.

په لنډ ډول سره کوم ویجاړونکې شاخصونه چې ایران یې د افغانستان له ولس سره لرې په لاندې ډول یې شمیرو.

۱) د افغانستان هغه اوبه چې کلونه، کلُونه په وړیا ډول د ایران په أور بهیږی دغه اوبو ته قانونی بڼه او د تل له پاره یې ایران غوښتونکي دی.

۲) ایران پدې ویره کې دی که چیری په افغانستان کې یو مظبوط دولت رامنځ ته شی نور به په وړیا ډول دا اوبه د ابد له پاره بندی او د افغانستان څمکې به پرې خړوبیږي.

۳) د ایران دولت د خپلُو تلي څتو پر مټ غواړی خپلي مذهبی ریښې په پراخه ډول سره زمونږ هیواد ته راوغزوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

۴) د ایران حکومت پدې اند دی چې زمونږ هیواد د خپله فرهنګي مستعمره و ګرځوي، خپله ژبه او کلتور زمونږ په ولس وتپي، پدې اړوند د ایران ځنځیرې غلامانو قسماً د هغوي هیلې راتوکولی دي.

۵) ایران پدې هڅه کې دي چې څرنګه کوالای شی زمونږ په ګران هیواد کې مذهبی توپیرونو ته لمن ووهي او د ځپلو نوکرانو په مټ اوبه خړې او خپله کبان ونیسي.ایران خپله افغاني لاس پوڅې دومره تر خپل تاثیر لاندې راوستلي دي چې د خپل افغانیت څخه هم انکار کوی او دا کړنه د ځان له پاره ستر ویاړ بولي، زیار باسي چې زمونږ په ګران هیواد افغانستان کې ایران پلوه ډله واک تر لاسه تر څو د ایران ګټې دلته ثابتې او خوندي پاتې شي.

۶) د نړیوالو مطبوعاتو د انعکاس له مخې د ایران دولت ښاوخوا « ۱۵۰۰۰ » زره افغاني کډوال د سوریې د ولسمشر (بشارالاسد) د ځواکونو تر څنګ د مذهبي برياو، پیسو، او ایراني هستوګنو په ژمنو سره د جګړې لومړی کرښې ته استخدام کړی او د ایران سپاه پاسداران په افغانستان کې په بیلو،بیلو سیالو او سیاسي ګوندونو کې پراخ انحصار لری او مالی ملاتړ يې کوي چې د افغانستان د سیاسي ثبات په وړاندې بنسټیزه ننګونه بلل کیږي، چې پایله یې په افغانستان کې د ناکامې حکومتوالي او کمزورې نظام تصویر وړاندی کوي.

د دویمي برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ